# تحقیق مسئله

# تقلیدِ شخصی

**تالیف :**

مفتی أعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب دیوبندی رحمة الله علیه

**پښتو ژباړه :**

محمد أحمد الحقانی الأفغانی عفی الله عنه

به اهتمام

مولوی عصمت الله آخندزاده

مکتبهٔ رحیمیه ، کاسی روډ ، کوئټه

03222423258 :

مسئلہ

# تقلیدِ شخصی

بسم الله الرحمن الرحیم

فَاسْئَلُوْا اَهْلَ الذِّكْرِ اِنْ كُنْتُمْ لاَ تَعْلَمُوْنَ (النحل : ٤٣)

# تحقیق مسئله

# تقلیدِ شخصی

تالیف :

مفتی أعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمَّد شفیع صاحب دیوبندی رحمة الله علیه

پښتو ژباړه :

محمد أحمد الحقانی الأفغانی غفر الله له

به اهتمام

مولوی عصمت الله آخندزاده

مکتبهٔ رحیمیه ، کاسی روډ ، کوئټه

03222423258 :

ټول حقوق محفوظ دي

© All Rights Reserved

**لومړی چاپ**

**۱۴۲۹ شوال \ اکتوبر 2008**

| | |
|---|---|
| Maktabah Rahimiyah | مکتبة رحيمية |
| Publishing Organization | خپرونديه ټولنه |

Kasi Road, Quetta, Pakistan . Mob: 03222423258 : کاسي روډ ، کوئټه ، پاکستان ، ګرځنده تليفون شميره

AL-ILM Computers, Quetta,. Mob: 03218016371 : العلم کمپيوټرز، کوئټه پاکستان، ګرځنده تليفون شميره

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# دشخصي تقليد مسئله

**د تقليد پر مسئله څو پوښتنې او ځوابونه يې :**

داپوښتنې زما د محترم استاذ دهند مفتي اعظم اود دار العلوم ديوبند له ټولو نه لومړي مستقل مفتي حضرت مولانا مفتي عزيز الرحمن صاحب د طالب العلمي دزماني كال **۱۳۳۵** هـ عطيي دي. په هغه وخت كي زه په دار العلوم ديوبند كي دحديث د دوري شاگرد وم. زما محترم استاذ دغه سوالونه ماته دځواب ليكلو لپاره راكړي و. چونكه ځواب په زيات تفصيل سره ليكل سوي و نو هغه ددار العلوم ديوبند په يوه مياشتني مجله كي شائع كړي سو. له همغه نه دلته نقلول كيږي. والله الموفق والمعين

بنده محمد شفيع عفا الله عنه

* * *

# بسم الله الرحمٰن الرَّحيم

الحمد لله وكفى وسلام على عباده الذين اصطفى.

**استفتاء** :
دلاندنیو مسائلو په باره کی د کتاب الله او حدیث نبوی څه حکم دی؟ ای علماء کرامو! پرتاسو دی د الله تعالی رحمت وی. بینوا توجروا.

**(۱) آیا د یو مجتهد امام تقلید دعامو مسلمانو لپاره فرض دی یا واجب یا مباح ؟**

**الجواب** :
مطلق تقلید په قرآنی نص فرض دی.
(فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون) که تاسی نه پوهیږی نو له عالمانو نه پوښتنه وکړئ. په بل آیت کی ارشاد دی (اطیعوا الله واطیعوا الرسول واولی الأمر منکم) د الله تعالی اطاعت وکړئ اود رسول الله اطاعت وکړئ اود اولو الامر اطاعت وکړئ.
داولی الامر تفسیر حضرت جابر بن عبد الله او حضرت ابن عباس، عطاء، مجاهد، ضحاك، ابو العالیه، حسن بصری او نورو اصحابو، تابعینو، تبع تابعینو رحمهم الله په خلفاو او فقهاو سره کړیدی اوپخپله مولانا صدیق حسن خان صاحب مرحوم داهل حدیثو رئیس دغه معنی پخپل تفسیر کی قبلوی په حدیث کی دی:
(انما شفاء العی السوال) کوم خلك چی نه پوهیږی دهغوی لپاره شفا پدی کی ده چی له عالمانو څخه پوښتنه وکړی. لیکن اوس خبره پدی کی ده چی ایا هر هغه شخص چی هغه ته لغتاً په عرف کی عالم ویل کیږی دغه کار ترسره کولی شی یا لدینه کوم خاص عالم او فقیه مراد دی.

دسلفو علماو دداسی عالم لپاره چی تقلید یی وسی یو معیار مقرر کړیدی حضرت شاه ولی الله قدس سره محدث ډهلوی پخپل کتاب عقد الجید کی فرمایی:

**"الاجتهاد على ما يفهم من كلام العلماء استفراغ الجهد فى ادراك الاحكام الشرعية الفرعية عن ادلتها التفصلية الراجعة كلياتها الى اربعة اقسام الكتاب والسنة والاجماع والقياس (الى ان قال) وشرطه انَّهُ لا بُدَّ له ان يعرف من الكتاب والسنة ما يتعلق بالاحكام ومواقع الاجماع وشرائط القياس وكيفية النظر وعلم العربية والناسخ والمنسوخ وحال الرواة ولا حاجة الى الكلام و الفقه (ثم قال) ولا باس ان يورد كلام البغوى فى هذا الموضع :**

**قال البغوى: و المجتهد من جمع خمسة انواع من العلم كتاب الله عزوجل وعلم سنة رسول الله ﷺ وعلم اقاويل علماء السلف من اجماعهم واختلافهم وعلم اللغة وعلم القياس وهوطريقة استنباط الحكم عن الكتاب والسنة اذا لم يجده صريحا فى نص كتاب او سنة او اجماع فيجب ان يعلم من علم الكتاب الناسخ والمنسوخ والمجمل و المفسر والخاص والعام والمحكم والمتشابه و الكراهة والتحريم والاباحة والندب والوجوب ويعرف من السنة هذه الاشياء ويعرف منها الصحيح والضعيف والمسند والمرسل ويعرف ترتيب السنة على الكتاب وترتيب الكتاب على السنة حتى لو وجد حديثا لا يوافق ظاهره الكتاب يهتدى الى وجه محمله فان السنة بيان الكتاب ولا تخالفه وانما يجب معرفة ما ورد منها فى احكام الشرع دون ماعداها من القصص والاخبار والمواعظ وكذلك يجب ان يعرف من علم اللغة ما ياتى فى كتاب او سنة فى امور الاحكام دون الاحاطة بجميع لغات العرب وينبغى ان يتخرج فيها بحيث يقف على مرام كلام العرب فيما يدل على المراد من اختلاف المحال والاحوال لان الخطاب ورد بلسان العرب فمن لم يعرف لا يقف على مراد الشارع ويعرف اقاويل الصحابة والتابعين**

**فی الاحکام و معظم فتاوی فقهاء الامة حتی لا یقع حکمه مخالفا لاقوالهم فیکون فیه خرق الاجماع واذا عرف من کل من هذه الانواع معظمة فهو حینئذٍ مجتهد ولا یشترط معرفة جمیعها بحیث لایشُذّ عنه شیئ منها و اذا لم یعرف نوعا من هذه الانواع فسبیله التقلید وان کان متبحرا فی مذهب واحد من احاد ائمة السلف لایجوز له تقلد القضاء ولا الترصُّد للفتیا واذا جمع هذه العلوم وکان مجانباً للاهواء و البدع متدرِّعا بالورع محترزاً عن الکبائر غیر مصرّ علی الصغائر جاز له ان یتقلد القضاء ویتصرف فی الشرع بالاجتهاد والفتوی ویجب علی من لم یجمع هذه الشرائط ان یقلده فیما یعنٌّ له من الحوادث. انتهی کلام البغوی.**

د اجتهاد تعریف چی دعلماو له کلام څخه پیژندل کیږی هغه دادی په معلومولو کی ښه محنت وکړه دشرعیت دفرعی احکامو دهغه له تفصیلی دلیلونو څخه چی دهغه دکلیاتو مآل او مرجع په څلورو ډولونو باندی ده یعنی پرکتاب، سنت، اجماع او قیاس باندی. او داجتهاد شرط دادی چی مجتهد ته ضروری دی چی په قران او حدیث باندی دومره پوهیږی چی له احکامو سره اړیکی لری او اجماع موقع اودصحیح قیاس شرطونه اودنظر کیفیت، علم، عربیت، ناسخ او منسوخ او دراویانو له حال نه واقف وی. اوپه اجتهاد کی دعلم کلام او داصطلاحی علم فقه څه حاجت نسته. داچی موږ داجتهاد دشرط یادونه کړیده داصولو په کتاب کی مشروح موجود دی. اوهیڅ مضائقه پکی نشته چی دبغوی قول پدی مقام کی یعنی دشرطِ اجتهاد په بیان کی ذکر کړی سی.

بغوی ویلی دی چی مجتهد هغه عالم دی چی هغه په پنځه ډوله علومو باندی حاوی وی اول د کتاب الله علم یعنی دقران کریم. دویم درسول الله ﷺ په حدیثو پوه او عالم وی. دریم دسلفو علماو په اقوالو باندی عالم وی چی دهغوی اتفاق دچا له قول سره دی او اختلاف دچا له قول سره؟ څلورم په عربی لغت باندی پوه وی پنځم دقیاس په علم باندی پوه وی او قیاس له قرآن او حدیث څخه دحکم ویستلو طریقی ته ویل کیږی په هغه صورت کی چی مذکوره صریح حکم دقران یا حدیث یا داجماع په نصوصو کی مجتهد ونه مومی.

اوس ددغو پنځو علومو مقدار باید مفصل معلوم کړی شی چی مجتهد ته دهر علم څومره زده کول پکار دی. په قرانی علومو کی پر هغه دومره علم واجب دی چی ناسخ منسوخ ومجهل، مفسر، خاص او عام محکم و متشابه کراهت او تحریم، اباحت او استحباب اوپر وجوبو پوهیدل.
اوپه حدیثو کی ددغه مذکوره شیانو پیژندل. همدغه راز په صحیح حدیث او ضعیف حدیث مسند او مرسل باندی پوهه اودحدیثو مرتب کول په قرآن اودقران په حدیثو باندی. حتی که داسی حدیث ومومی چی دهغه ظاهر دقرآن موافق نه وی دهغه د مطابقت پته ولګولی سی ځکه چی حدیث دقران مجید بیان دی نه مخالف چی مطابقت پکی ونسی اوپه احادیثو کی صرف پر هغو احادیثو پوهیدل واجب دی چی دشرعی احکامو په باره کی وارد سویدی نه په نورو احادیثو پوهیدل چی په هغو کی حکایت، اخبار او نصائح دی. همدغه راز دعربی ژبی پرهغو الفاظو پوهیدل واجب دی چی دقرآن او دحدیثو په احکامی امورو کی واقع سویدی نه پرټولو عربی لغت باندی. بهتره خبره دا ده چی په لغت دانی کی دومره کوشش وکړی چی دعربو دکلام له مقصود نه خبر سی. او ددا ډول اختلافی مواقع اوحالاتو په وجه له مذکوره کلام نه همدا مراد وی. ځکه چی دشریعت خطاب په عربی ژبه کی وارد سویدی نوکوم سړی چی په عربی نه پوهیږی هغه دشارع علیه السلام په مقصد نه پوهیږی. داصحابو او تابعینو په اقوالو باندی باید دومره پوه سی چی د احکامو په باره کی منقول دی او دفتواوو په هغه لویه حصه باندی پوه سی چی د امت فقهاو ورکړیدی ترڅو ددی حکم دسلفو له اقوالونه مخالف نسی که نه نو پدی صورت کی به له اجماع نه مخالفت وسی.
نو کله چی ددغو پنځو علومو څخه خبر سی نودا شخص به مجتهد سی اودا شرط نه دی چی په ټولو علومو بالکل داسی واقف وی چی هیڅ یو شی له دغو علومو نه پاته نه سی. که چیری له دغو پنځو علومو څخه په یوه علم هم نه پوهیږی نو ددی لاره دا ده چی دنورو تقلید به کوی اګر چی هغه شخص په یو مذهب کی دسلفو له یو امام څخه کامل ماهر وی. نوداسی شخص ته د قضا مسؤلیت او عهده قبلول اودفتوی ورکولو لپاره کاندید کیدل صحیح کار ندی. په کوم صورت کی چی ددغو پنځو علومو جامع وي، دنفسانی خواهشاتو اوبدعتونو څخه لیری وی، تقوی او پرهیزګاری یی خپل شعار ګرځولی وی له کبیره ګناهونو څخه محترز وي،

په صغیره ګناهو باندې اصرار نه کوي نو دهغه لپاره قاضي کیدل اوپخپل اجتهاد سره په شرع کې تصرف کول ورته جائز دي او هغه شخص چې ددغو علومو جامع نه دې دهغه چا تقلید کول وربانديې واجب دي چې په دغو پنځو علومو باندې پوهیږي. په هغو مسائلو کې کمې چې دهغه مخ ته راځي. دبغوي کلام ختم شو.

غرض داچې له متواتره نصوصو څخه داکار بالکل متحقق سو چې کومه مسئله معلومه وي په هغه کې دعلماو تقلید کول پکار دي لهذا مطلق تقلید ټولو اهل حدیث محققین هم واجب مني اکثر اهل حدیث دمطلق تقلید دفرضیت هم قائل دي اوس اختلاف په شخصي تقلید کې پاته سو یعنې دیوخاص ټاکلي او معین امام په هرحکم او مسئله کې تقلید کول دا داهل سنت والجماعت علماؤ په نزد واجب دي ځکه چې مطلق تقلید چې فرضیت یې عند الفریقین مسلم دی ددې دوه فرده دي شخصي او غیر شخصي. لهذا جائز سو چې دغه مطلق فرض په کوم فرد کې وغواړي ادا کړي. دغیر شخصي تقلید په کولو سره لدې فریضې نه همدغسې برې کیږي لکه چې په شخصي تقلید سره برې کیږي، ځکه چې مامور به کله مطلق وي نو لا على التعین دهغه دفرد په ادا کولو سره مامور برې الذمه کیږي وګورئ که کوم شخص خپل خادم ته حکم وکړي چې یوڅوك راوبوله نو هغه اختیار لري خوښه یې ده زید رابولي اوکه عمر یا بکر اوبل څوك او هغه چې هر څوك راوبولي له خپل فرض منصبي نه برې الذمه کیږي.

څرنګه چې مامور دقرآن په نص مطلق تقلید دی اوددې دوه فرد دي نو داصحابو او تابعینو په زمانه کې په دواړو فردونو باندې عمل کیدې چابه شخصي تقلید کوي او چابه غیر شخصي. شخصي تقلید کوونکي به پرغیر شخصي تقلید کوونکي باندې څه ګرفت نه کوي همدغه راز غیر شخصي تقلید کوونکو به پر شخصي تقلید کوونکو باندې اعتراض نه کوي.

لنډه دا چې دواړه ډوله تقلید داصحابو اوتابعینو په زمانه کې سویدې لیکن کله چې د دوهمې صدې په آخره کې ولیدل سوه چې د مجتهدینو مذاهب زیات سول. ډیر کم احکام داسې پاتې سویدې چې دهغو په حرمت اوجوازکې یاپه کراهت استحباب اونورو کې خلاف نه وي بلې خواته دزمانې په خلګو کې دهوا اوهوس غلبه ولیدل سوه هغوی درخصتونو په لټه کې سول دکوم مجتهد امام چې کومه مسئله دخپل خواهش په مطابق په لاس ورغله هغه یې اختیار کړه او نورې یې

شاته واچولی تردی چی دا اندیښنه پیدا سوه چی دا متین دین دخواهشاتو مجموعه جوړه سی او ددی پرځای چی مسلمان دخپل دین اتباع وکړی دخپل خواهش تابع ګرځوی لهذا دهغی زمانی زیرك او دور اندیشو علماؤ دغه ضرورت محسوس کړ چی اوس په غیر شخصی تقلید کی دومره لوی لوی مفاسد پیدا سویدی او آینده لدینه هم دلویو مفاسدو دپیدا کیدو ویره ده لهذا پدی وخت کی دشرعی مصلحت غوښتنه او تقاضیٰ داده چی له غیر شخصی تقلید نه خلګ منع کړل شی اوټول په شخصی تقلید باندی جمع کړل سی. پردی باندی اجماع منعقده سوه. لکه چی محدث الهند شاه ولی الله ډهلوی قدس سره چی دهغه دعظمت او دحدیثو په علم کی دپوهی اعتراف داهل حدیثو محققینو مثلاً نواب صدیق حسن خان مرحوم هم کړیدی هغه پخپل رساله الانصاف ص **۵۹** کی فرمایی:

(( وبعد المأتين ظهر فيهم التمذهب بالمجتهد باعيانهم وكان هذا هو الواجب فى ذالك الزمان )).

له دویمی صدی نه وروسته دخاصو خاصو ائمهٔ دمذهب پابندی یعنی شخصی تقلید شروع سو اوپه هغه زمانه کی همدغه واجب و.

چونکه دمطلق تقلید له دوو فردونو څخه تقلید غیرشخصی مضر ثابت سو لهذا اوس دفرض تقلید ادا کول صرف په شخصی تقلید کی منحصر سو او دفرض دادا په ذریعه د ظنی ثبوت کیدو له کبله واجب شو.

## دشخصی تقلید د وجوب یو واضح مثال

## د راشده خلافت په زمانه کی

داخبره له علماؤ نه پټه نده چی دعربی قبائلو ژبی په عربی ژبو کی دمشترك کیدو باوجود مختلفی وی لکه په هندوستان کی دمشرق او مغرب خلګو او ډلی او لکهنو اوسیدونکو ژبی مختلفی ګڼل کیږی ځکه خو محمد (ﷺ) دعا وفرمایل چی قرآن کریم په دغو اوه ژبو کی نازل کړی سی ترڅو کومی ډلی ته شکایت اویاپه لوستلو کی ورته تکلیف نه وی. د محمد ﷺ ددغی دعاء او تمنا له کبله قرآنکریم په اووه لغتونو نازل سو چی دحدیثو په الفاظ کی په (سبعة احرف) سره تعریف

سویدی (موطا امام مالك) اوپه نبوی زمانه کی ددغه اووه لغتونو په موا فق قران کریم لوستل کیدی. مگر دحضرت عثمان غنی رضی الله عنه دخلافت په زمانه کی عجمی سیمی فتح سولی اوقران کریم په عجمو کی شائع سو په هغه وخت کی داوو لغتونو دتفرق په وجه عجمیان حیران سول او اندیښنه پیدا سوه چی دغه اووه لغتونه چی دآسانی لپاره غوښتل سوی وه اوس چیرته د مشکلاتو بلکی دتحریفاتو ذریعه ونه گرځی. لهذا جامع القرآن حضرت عثمان غنی رضی الله عنه حکم وکړ چی اوس دی قرانکریم صرف په یولغت کی ولوستل سی اوپه نورو لغتونو کی دلوستلو او لیکلو ممانعت وکړ اود اصحابو کرامو ټولی مجمع دغی فیصلی ته دثواب په نظر وکتله او نهایت ضروری یی وګڼله او هیچا وربانـدی نکیر ونکړ. غرض داچی داصحابو په اجماع له سبعه احرف څخه پر یوه حرف باندی اقتصار کول ضروری او واجب وګڼل سوه.

بعینه همدغه مثال دشخصی او غیر شخصی تقلید دی. څرنګه چی په خیر القرون کی دهوا او هوس داتباع غلبه نه وه نوپه هغه وخت دواړه تقلیدونه کیدل دچابه چی کوم یو خوښ و پرهغه یی عمل کوی مگر ددریمی پیړی په پیل کی چی کله دهوا او هوس غلبه زیاته شوه او دمحمد ﷺ دپیش ګویی او وړاندوینی په مطابق نفسانی خواهش دخلګو په رګونو رګونو کی سرایت وکړ نو دوخت علماو په اتفاق سره د اخبره ضروری وګڼله چی له غیر شرعی تقلید نه خلګ منع کړل سی اویوازی شخصی تقلید واجب وګرځول سی که نه نو دشخصی تقلید په پرده کی به خلګ دخپل نفس مقلد وګرځی چی دامت په اجماع سره داکار حرام دی.

حافظ ابن تیمیه چی غیر مقلدین حضرات هم هغه امام ګڼی هغه پخپل فتوی کی پدی باندی د اجماع امت دعوه کړیده چی دخپل نفسانی خواهش په مطابق ګڼلو سره دهوا داتباع په غرض دکوم حدیث یا دکوم ا مام مذهب اختیارول حرام دی.

((حیث قال فیمن نکح عند شهود فسقة ثم طلقا ثلاثا فاراد التخلص من الحرمة المغلظة بان النکاح کان فاسدا فی الاصل علی مذهب الشافعی (رح) فلم یقع الطلاق ما نصه وهذا القول یخالف اجماع المسلمین فانهم متفقون علی ان من اعتقد حل الشئ کان علیه ان یعتقد ذلك سواء وافق غرضه او خالف ومن اعتقد تحریمه کان علیه ان یعتقد ذلك فی الحالین وهولاء

المطلقون لا يقولون بفساد النكاح بفسق الولى الا عند الطلاق الثلاث لا عند الاستمتاع والتوراث يكونون فى وقت يقلدون من يفسده وفى وقت يقلدون من يصححه بحسب الغرض والهوى ومثل هذا لا يجوز باتفاق الامة (ثم قا ل بعد ثلاثة اسطر) ونظير هذا ان يعتقد الرجل ثبوت شفعة الجوار اذا كان طالبا لها وعدم ثبوتها اذاكان مشتريا فانه لا يجوز بالاجماع وكذا من بنى على صحة ولاية الفاسق فى حال نكاحه وبنى على فساد ولايته حال طلاقه لم يجز ذلك باجماع المسلمين ولو قال المستفتى المعين انا لم اكن اعرف ذلك وانا اليوم التزم ذلك لم يكن من ذلك له لان ذلك يفتح باب التلاعب بالدين ويفتح الذريعة الى ان يكون التحليل والتحريم بحسب الاهواء .

(فتاوى ابن تيميه جلد ثانى ص ۲٤۰ و ۲٤۱) .

په مقلدينو باندې اعتراض كوونكي خلك دې فكر او غور وكړي چې هغو اصحابو كرامو ته هغوى څه وايي چې هغوى دعوامو په غلطۍ كې دغورځيدو له ويرې دمحمد ﷺ له خوا جارې شوې له اووه لغتونو څخه يې صرف يو مقرر او واجب كړ او نور يې ناجائز وګرځول. كه چيرته هغوى دهغو حضراتو له طرف نه كومه توجيه كوي نو ايا مقلدين به له هغو نه دا توقع وكړي چې دهغو له طرف نه دې هم همغه توجيه قبوله كړي سي.

**يوه فقهي مسئله**: ددې يو نظير او مثال يوه فقهي مسئله هم ده چې سبع قراءات چې له محمد ﷺ څخه په تواتر منقول دي په اووه قرائتونو كې دقران تلاوت كول هميشه معمول پاته سويدی ليكن دمنيه شارح علامه حلبي (رح) ليكلي دي چې دا زمانه دجهل او ناداني ده لهذا بهتره داده چې لدې قرائت نه پرته چې پخپل ملك كې رائج وي بل قرائت ونه ويل سي ترڅوعوام په دې مغالطه كې ونه غورځيږي چې دقران په الفاظو كې اختلاف دی.

## دويم سوال:

### شخصي تقليد له كوم وخت نه او ولې شروع سو ؟

په خير القرون کي يعني د اصحابو او تابعينو په زمانه کي څنګه چي پورته عرض وشو. کوم سړي چي به نه دکومي مسئلي نه خبر نه و هغه به له کوم عالم نه دمسئلي تپوس کوی اوپر هغي به يي عمل کوی اوپدی کي دتقليد شخصي اوغير شخصي ددواړو نظائر او مثالونه ترسترګو کيږي. چونکه اهل حديث حضرات هم دغير شخصي تقليد معترف دی لهذا دهغو دمثالونو دوړاندی کولو ضرورت نسته صرف هغه څو واقعات ليکل کيږي چي له هغو نه دا معلوميږي چي داصحابو او تابعينو په زمانه کي هم ځيني خلګ دشخصي تقليد پابند وو او صرف يو عالم يي خپل مقتدا ګرځولي و. اوپه ټولو اختلافي مسائلو کي به يې دهغوی مذهب راجح ګڼي او عمل يي ورباندی کوی.

محدث الهند حضرت شاه ولی الله رحمة الله عليه په حجه الله البالغه کي ليکي:

(( اختلف فی کثير من الاحکام و اتبعه فی ذالك اصحابه من اهل مکة )) .

يعني کله چي حضرت ابن عباس په مکه کي هستوګن سو نو په ډيرو مسائلو کي دنورو اصحابو خلاف وکړ. اود مکي ډيرو اوسيدونکو دحضرت ابن عباس رضی الله عنه قول مرجح وګڼي او دهغه په فتوی يي عمل وکړ. داختلاف په محل کي د ابن عباس رضی الله عنه قول ته ترجيح رکول اودهغه په فتوی عمل کول همدغه شخصي تقليد دی.

همدغه راز په حجت الله کي فرمايي:

(وکان ابراهيم و اصحابه يرون ابن مسعود واصحابه اثبت الناس فی الفقه)

يعني حضرت ابراهيم نخعي او دهغوی شاګردانو حضرت عبدالله بن مسعود او دهغه شاګردان به يې په فقه کي اثبت الناس ګڼل.

په اختلافي مسائلو کي به يې دهغوی قول ته ترجيح ورکوی اوشخصي تقليد لدينه زيات مفهوم نلري.

او په ابوداود مجتبايي ص ۲۸ کي دی:

(( عن عمرو ابن ميمون قال قدم علينا معاذ باليمن رسول رسول الله صلی الله عليه وسلّم الی قوله فالقيت محبتی عليه فما فارقته حتی دفنته بالشام ميتاً ثم نظرت الی افقه الناس بعد فاتيت ابن مسعود (رضی الله عه) فلزمته حتی مات (الحديث)

عمرو ابن میمون وایی چی کله معاذ ابن جبل رضی الله عنه په یمن کی دمحمد ﷺ دقاصد په توگه تشریف راوړی نو ما له هغه سره محبت وکړ او تر هغه ترینه جدا نه شوم ترڅو مو چی په شام کی دفن کړ. لدینه پس ما وکتل چی افقه الناس څوك دی زه دحضرت عبد الله بن مسعود خواته راغلم او دهغه په خدمت کی واوسیدم تردی چی هغه هم وفات شو.

حاصل داچی تقلید دمحمد ﷺ له زمانی نه شویدی اودهغه ﷺ په حکم شویدی او بیا په اصحابو کی همیشه پاته سو. ځینو حضراتو دمطلق تقلید څخه کار واخیستی اوځینو له شخصی تقلید څخه.

پاته سوه ستا پوښتنه چی تقلید ولی وسو؟ نوکله چی دا ثابته سوه چی محمد ﷺ ددی امر اوحکم کړیدی اوجمهورو اصحابو عمل په کړی نو بیا دیو مسلمان لپاره ددی پوښتنی گنجایش نه پاتی کیږی چی د اولی وسو. لدینه علاوه ددی حکمت څه پټ هم نه دی ځکه چی د تقلید حال په دینی علومو کی بالکل داسی دی لکه دنیاوی علوم طب، ریاضي، هیئت، کسبونه لکه نجاري، معماري، اونور کارونه چی نا واقف ته په دغو ټولو کی دکوم واقف له تقلید نه پرته بله چاره یی نسته همداغسی په دینی علومو کی هم ناواقف ته دواقف له تقلید نه پرته بله چاره نسته. (والله اعلم بالصواب)

## دریم سوال:

### یوازی دڅلورو امامانو تقلید ولی ضروری دی؟

ایا بل کوم امام دغه درجی ته نه دی رسیدلی چی دهغه تقلید وکړل سی؟

ایا د آئمه اربعه و دتقلید حکم په کوم نص کی راغلی دی؟

پرڅلورو امامانو باندی د تقلید دسلسلی ختمیدل کوم عقلی یاشرعی امر ندی بلکی محض اتفاق دی چی په خداوندی مشیت سره له دغو څلورو مذاهبونه علاوه ځومره نور مذاهب وو ختم سول که چیری دهغوی څلور، لس، شل، پنځوس اوسل اقوال او احکام نن هم موجود او منقول وی نو هغه کوم مستقل مذهب نشی جوړیدای چی خلك یی تقلید وکړی ځکه چی که دهغو ددغو سلو اقوالو تقلید هم وکړی سی نوپه پاتی زرگونو مسئلو کی دچا دا ومنی ؟ څرنگه چی له دغو څلورو

مذهبونو نه علاوه نور ټول مذاهب له مينځه تللى او نسته نو مجبوراً دتقليد سلسله په دغو څلورو مذهبونو کى منحصره سوه.

لکه چى ابن خلدون دظاهريه و په مذهب دبحث په ضمن کى وايي:

(ثم درس مذهب اهل الظاهر اليوم بدروس ائمته و انكار الجمهور على من منحليه ولم يبق الا فى الكتب المجلدة) .

او دابن خلدون په تاريخ کى داهم ليکل سويدى چى :

(( ووقف التقليد فى الامصار عند هولاء الاربعة ودرس المقلدون لمن سواهم وسد الناس باب الخلاف وطرقه ولما كثر تشعب الاصطلاحات فى العلوم ولما عاق عن الوصول الى رتبة الاجتهاد ولما خشى من اسناد ذلك الى غير اهله ومن لا يوثق برأيه ولا بدينه. فصرحوا بالعجز والاعواز و ردوا الناس الى تقليد هولاء كل من اختص به من المقلدين وخطروا ان يتداول تقليدهم لما فيه من التلاعب ولم يبق الا نقل مذاهبهم وعمل كل مقلد بمذهب من قلده منهم بعد تصحيح الاصول والاتصال بسندها بالرواية. ولا محصول اليوم للفقه غير هذا ومدعى الاجتهاد لهذا العهد مردود على عقبيه مهجور تقليده وقد صار اهل الاسلام اليوم على تقليد هؤلاء الائمة الاربعة. انتهى كلامه )) .

او حضرت شاه ولى الله صاحب قدس سره په عقد الجيد ص ٣٨ کى فرمايى:

(( ولما اندرست المذاهب الحقة الا هذه الاربعة كان اتباعها اتباعاً للسواد الاعظم والخروج عنها خروجاً عن السواد الاعظم )) .

او شيخ ابن الهمام په فتح القدير کى فرمايى:

(( انعقد الاجماع على عدم العمل بالمذاهب المخالفة للائمة الاربعة )) .

او علامه ابن حجر مکى په فتح المبين شرح الاربعين کى فرمايي:

(( اما فى زماننا فقال ائمتنا لا يجوز تقليد غير الائمة الاربعة الشافعى ومالك وابى حنيفة واحمد بن حنبل )) .

او طحاوی ددر مختار په حاشیه کی فرمایی:

(( من کان خارجاً عن هذه الاربعة فهو من اهل البدعة والنار )) .

اوس دچا پدی خبره دلیل غوښتل چی تقلید په څلورو مذهبو کی ولی منحصر سو بی محل اوبی ځای دی او ددی مثال داسی دی لکه چی دیو سړی زیات اولادونه وی لیکن هغه مړ سی اوکله چی دهغه پلار مړ کیږی نو صرف څلور زامن یی پاته وی اوس واضحه ده چی میراث به په همغه څلورو باندی تقسیم کیږی او په همغوی به منحصر وی حال دا چی له دغو څلورو نه علاوه نور اولادونه یی هم وه لیکن تاسی به داسی څوك ونه وینئ چی ووایی دغه میراث په دغو څلورو ولی منحصر دی اوکه څوك داسی ووایی نو دهغه ځواب به لدینه علاوه نور څه وی چی ورور جانه همدا دالله ﷻ مشیت و.

ملا جیون صاحب په تفسیر احمدی کی لیکلی دي:

(( والانصاف ان انحصار المذاهب فی الاربع فضل الهی وقبولیة من عند الله لا مجال فیه للتوجیهات والارادة ، انتهی ))

پاتی سوه ستاسی دا وینا چی کوم یو آیت او نبوی حدیث دهغوی په نوم راغلی دی دا عجیب سوال دی ، شرعی احکام دچا په نومونو نه واردیږی که نه نو ووایاست چی کوم یو آیت او حدیث ستا په نوم وارد سویدی چی تاته ډوډی خوړل او جامی آغوستل جائزدی په کوم یو آیت کی ستا نوم آخستل سویدی چی ستا لپاره ویده کیدل او ناسته ولاړه جائزه ده که چیرته داحکامو په ثبوت کی نوم په نوم دآیت ضرورت وی نو انشاء الله تعالی په دنیا کی نن نه پر چا کوم فرض واجب پاتی کیږی او نه حرام او مکروه.

ایا تاسی داسی آیت او حدیث ښودلی سئ چی په هغه کی ستا په نوم یو شی واجب کړل سوی وی. همدغه راز په مذکوره مثال کی څوك داویلی سی چی څلورو زامنو ته کوم میراث ورکول سویدی کوم ایت یا حدیث دهغوی په نوم وارد سویدی. هرگز نه! نه دی وارد سوی.

البته عام حکم دټولو لپاره موجود دی پس هغه دتقلید په باره کی هم موجود دی لکه چی لوړ تیر سو مثلاً دالله تعالی قول (( فاسئلوا اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون )) ځکه چی څلور امامان بلا شك له اهل ذکر څخه دی.

## ځلورم سوال:

کوم سړی چی له ځلورو امامانو څخه دچا مقلد نه وی ایا دهغه امامت جائز دی او که نه ؟

**ځواب:**

دداسی شخص امامت خو فی نفسه جائز دی مګر څرنګه چی پدی زمانه کی کوم خلګ دمجتهدینو امامانو تقلید نکوی اوپخپل ګمان په حدیث باندی دعمل کولو مدعی دی دهغوی ځینی افعال داسی دی چه په مفسد صلوات کی وی.
مثلاً هغه خلك په لوټی سره استنجا نه کوی اوپدی زمانه کی دمتیازو دقطرو څڅیدل عموماً یقینی کار دی لهذ ا دداسی خلکو پرتوګونه زیاتره ناپاك وی لهذا د هغوی له امامت نه احتراز پکار دی. فقط. (والله سبحانه وتعالی اعلم)

کتبه العبد الضعیف محمد شفیع عفا الله عنه.
مدرس دار العلوم دیوبند ۱۳۳۵ هجری.

❊ ❊ ❊

# دتقلید پر مسئله

## دحضرت قاسم العلوم والخیرات نور الله مرقده محققانه تبصره

دتقلید خبره واورئ. بیشکه داسلام دین یودی اوځلور مذهبونه حق دی. مګر ځرنګه چې دطبابت فن یونانی یا ډاکټری یو دی اوټول طبیبان کامل قابل علاج اوهر یو ډاکټر قابل معالجه دی. لیکن داختلاف په وخت کی چی له کوم ډاکټر نه علاج وکړل سی دهمغه ډاکټر خبره هم منل کیږی دبل ډاکټر خبره یا رایه نه منل کیږی همدغسی داامامانو داختلاف رای په وخت کی چی دکوم مجتهد امام اتباع وکړل سی په هره خبره کی دهغه اتباع لازمی اوضروری ده. خوکله چی دیو ډاکټر علاج پریښودل کیږی اوبل ډاکټر ته رجوع کوی اوبیا له رجوع نه وروسته په هره خبره کی د دویم ډاکټر اتباع دلومړنی ډاکټر پشان کوی.
همدغسی کله کله ځینو بزرګانو په تیره زمانه کی په کومه وجه یو مذهب پرې ایښی او بل مذهب یی اختیار کړی و او دمذهب له تبدیلی نه وروسته په هره خبره کی دبل اتباع وکړی یایې ونکړی یوه خبره یی دهغه واخیسته او بله خبره یی له بل نه واخیسته اوپه تدبیر سره دلامذهبی یوه پنځمه طریقه یی پیدا کړه.
امام طحاوی چی لوی محدث او فقیه دی لومړی شافعی مذهبی دی بیا حنفی شوی و. بالجمله له تقلید نه پرته کار نه کیږی. همدغه وجه ده چی په کروړونو عالمان او محدثین تیر سول مګر بیا هم مقلدوه. امام ترمذی وګورئ څومره لوی عالم فقیه او محدث و دترمذی شریف مصنف دی مګر ددومره لوی علم باوجود بیا هم مقلدوو. ترمذی دامام شافعی تقلید وکړ او امام طحاوی امام محمد او امام ابویوسف دامام ابو حنیفه رحمهم الله تقلید وکړ.
اوس به کوم یو داسی عالم وی چی پر هغه تقلید ضروری نه وی. که لویو علماؤ تقلید کړی هم نه وی نو څه وسوه لومړی خو دیو دوو کسانو خبره دکروړونو خلکو په مقابل کی څوك آوری له هر عاقل نه چی پوښتنه وسی همد ابه ووایی چی کوم طرف ته پوره دنیا ولاړه وی د همغه خبره صحیح ده. دټولو باوجود دا د کوم عقل خبره ده چی پدی خبره کی دعالمانو چلند هم خپل کړو دا داسی خبره ده لکه چی

جاهل مریض پخپل مرض کی یو طبیب ووینی چی دخپل ځان علاج پخپله کوی او له بل کوم طبیب نه پوښتنه نه کوی دهغه په لیدو سره دغه مریض هم دهغه چال چلند خپلوی او خپل علاج پخپله شروع کوی له نورونه تپوس نه کوی نو تاسی پخپله ووایاست چی داسی سړی ته عاقل وایاست اوکه لیونی؟
نو که چیری څوك یو عالم شخص غیر مقلد ووینی او دهغه په لیدو خپل تقلید پریږدی نودابه وایی که نه چی علم ددین ورسره و یانه، خوعقل یې هم دښمنانو ته په نصیب سو، او جاهلان پریږدئ یقین وکړئ چی دنن صبا عالمان که ټول جاهلان ندی زیاتره خودی جاهلان بلکی ځینی علما خو له جاهلانو نه هم زیات جاهلان دی. د اردو دوه کتابونه تر تخرګ لاندی ایږدی ا و وعظونه کوی. دعلم په نوم په خاورو هم نه پوهیږی. دومره علم خوباید وی چی دهر علم یو یو کتاب شاګرد ته وښودلی سی.
پاتی سوی تراویح پدی کی چی نن سبا ملایانو کوم تخفیف کړیدی یعنی له شلو نه اته رکعتو ته یې کمی کړیدی نو هریوه ته داسانی له کبله دا خوښیږی خو پدی خبره څوك نه پوهیږی چی په کوم حدیث کی داتو رکعتونو ذکر راغلی دی هغه خو د تهجد لمونځ دی، تهجد یوشی دی او تراویح بل شی. دتراویح شل رکعتونه دی دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کی زرګونه اصحاب موجود وه له هغی زمانی نه تر ننه پوری هیچا په شلو رکعتونو کی دلیل نه وغوښتی مګر نن سبا داسی جاهلان عالمان پیدا سویدی چی هغوی دحضرت عمر رضی الله عنه او داصحابو غلطیانی هم راوایستلی، سبحان الله! دا خوله او دمسورو دال.
پاتی سوه داخبره چی له حضرت عمر نه مخکی اصحابو شل رکعته ندی لوستلی نودا خام خیال دی. داخبره څرنګه لدی خبری نه راووتله چی شل رکعته دحضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کی شروع سوه وګورئ په لومړی زمانه کی ددویم واده ځکه چندانی اهتمام نه و چی دغه واده به یی دومره بد نه ګڼی. کله چی شاه ولی الله رحمه الله ولیدل چی دغه دویمه نکاح نن سبا معیوب ګڼل کیږی نو هغه ددی یادونه پخپلو کتابونو کی وکړه بالاخره دهغه اولادو او شاګردانو ددی دجاری کولو لپاره ملا وتړله مګر ددی دا معنی نده چی دا دویمه نکاح شاه ولی الله صاحب او دهغه دخاندان ایجاد دی او درسول الله (ﷺ) دزمانی خبره نه ده.
همدغسی شل رکعته تراویح دحضرت عمر او دهغه دزمانی اصحابو ایجاد مه ګڼئ

بلکی دنبی کریم ﷺ سنت یې وګڼئ که نه نو ددی معنی دا سوه چی حضرت عمر رضی الله عنه سنی نه او دهغه رضی الله عنه دزمانی اصحاب هم سنی نه وه نعوذ بالله ټول بدعتیان وو. درسول الله (ﷺ) سنت یی ختم کړ او خپل سنت یی جاری کړ. اوس تاسی ووایاست چی دحضرت عمر رضی الله عنه او پیغمبر (ﷺ) د اصحابو بد ګڼونکی څوك کیدی سی؟

دحضرت عمر (رضی الله عنه) او نورو اصحابو (رضی الله عنه) دپیروی حکم په صحیحو احادیثو کی موجود دی یو دوه احادیث لاندی لیکم ددی ترجمه له هغو مولوی صاحبانونه واورئ چی داتو رکعتونو ډنډوره کوی.

لومړی حدیث:

(( علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین من بعدي)) .

دویم حدیث :

(( اقتدوا بالذین من بعدی )) .

دریم حدیث :

(( اصحابی کالنجوم بایهم أقتدیتم اهدیتم )) . فقط

❊ ❊ ❊

## دامام الائمه امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله

## په اړه

## دحدیثو دحفاظو او داسلام دائمه ؤ څو اقوال

دامام اعظم ابو حنیفه رحمة الله علیه له جلالت قدر، فضائل او مناقبو څخه غالباً هیڅ یو شخص چې په مسلمانه کورنی کی زیږیدلی او تربیه شوی وی بی خبره به نه وی د هغه علم، فضل، زهد او تقوی تفقه فی الدین او دامامت له شان نه هغه خلك هم انکار نشی کولی چی پرامام صاحب باندی طعن او تشنیع یی خپل مذهب گرځولی دی لیکن ډیر باسواده او تعلیم یافته مګر کم علم اوکم فهمه خلك دافکر کوی چی امام صاحب ته په احا دیثو کی هغه مرتبه حاصله نه وه چی دنورو ائمه و امتیازی وصف ګڼل شویدی. دحدیثو دعلم او عمل بالحدیث ډیر دعوه داران چی پر امام صاحب باندی دطعن او جرح لپاره تیار ناست دی دافکر لری چی موږ صرف له همدغی لاری څخه پخپل مقصد کی کامیابیدی سو چی په علم حدیث او فن روایت کی دامام اعظم (رح) مرتبه کمه کړی سی لیکن هغوی دی داپه یاد وساتی:

چراغــــــی راکه برفـــــروزد کسی کوتف زند ریشش بسوزد

پدی مختصر مضمون کی نه دامام صاحب سوانح بیانیږی نه هغه ټول اقوال او شهادتونه چی دحدیثو دامامانو اوله سلفو اوخلفو څخه دحضرت امام (رح) په شان کی منقول دی جمع کیږی. بلکی زموږ غرض پدی وخت ددی مقالی پیش کول دی چی پدی باب کی دحدیثو امام ابوعمر بن عبدالبر (رح) دامام موطا شارح مالکی المذهب پخپل کتاب (جامع بیان العلم) کی لیکلی ده. امام ابن عبدالبر (رح) ددریمی پیړی له هغو علماو څخه دی چی داندلس اوقرطبه د علم مدار ګڼل سویدی. نوموړی په ۳۶۸ هـ کال کی په قرطبه کی زیږیدلی دی همهلته یی علم او فن حاصل کړی بیا داندلس په مختلفو ښارونو کی قاضی پاته سویدی. دنوموړی ګڼ تصانیف په حدیث، فقه، او تاریخ کی دخپل فن روح ګڼل سویدی. نوموړی په فقه کی دامام مالك مقلد و حنفی المذهب نه دی. لهذا دهغه لیکنه اورأی دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله په اړه نور هم داعتنا وړ ده.

**لهذا دا غوره اوښه معلوم سوه چې دهغه اصل عربي الفاظ هم وليکل سي او دهغه ترجمه تاسوته وړاندې کړی سي. والله المستعان**

قال أبو عمر : « وأفرط أصحاب الحديث فى ذم أبى حنيفة رحمه الله وتجاوزوا الحد فى ذلك ، والسبب الموجب لذلك عندهم إدخاله الرأى والقياس على الآثار واعتبارهما ، وأكثر أهل العلم يقولون : إذا صح الأثر بطل القياس والنظر ، وكان رده لما رد من اخبار الاحاد بتأويل محتمل ، وكثير منه قد تقدمه إليه غيره وتابعه عليه مثله ممن قال بالرأى ، وجل ما يوجد له من ذلك ما كان منه اتباعا لأهل بلده كإبراهيم النخعى وأصحاب ابن مسعود إلا أنه أغرق وأفرط فى تنزيل النوازل هو وأصحابه والجواب فيها برأيهم واستحسانهم ، فيأتى منهم من ذلك خلاف كثير للسلف وشنع هى عند مخالفيهم بدع وما أعلم أحدا من أهل العلم إلا وله تأويل فى آية أو مذهب فى سنة رد من أجل ذلك المذهب بسنة أخرى بتأويل سائغ أو ادعاء نسخ ، إلا أن لأبى حنيفة من ذلك كثيرا وهو يوجد لغيره قليلا »

وعن الليث بن سعد ، أنه قال : « أحصيت على مالك بن أنس سبعين مسألة ، كلها مخالفة لسنة رسول الله صلى الله عليه وسلم مما قال فيها برأيه قال : ولقد كتبت إليه أعظه فى ذلك » قال أبو عمر : « ليس أحد من علماء الأمة يثبت حديثا عن رسول الله صلى الله عليه وسلم ثم يرده دون ادعاء نسخ ذلك بأثر مثله أو بإجماع أو بعمل يجب على أصله الانقياد إليه أو طعن فى سنده ، ولو فعل ذلك أحد سقطت عدالته فضلا عن أن يتخذ إماما ولزمه اسم الفسق ، ولقد عافاهم الله عز وجل من ذلك ، ونقموا أيضا على أبى حنيفة الإرجاء ، ومن أهل العلم من ينسب إلى الإرجاء كثير لم يعن أحد بنقل قبيح ما قيل فيه كما عنوا بذلك فى أبى حنيفة لإمامته ، وكان أيضا مع هذا يحسد وينسب إليه ما ليس فيه ويختلق

عليه ما لا يليق به وقد أثنى عليه جماعة من العلماء وفضلوه ولعلنا إن وجدنا نشطة نجمع من فضائله وفضائل مالك ، والشافعى ، والثورى ، والأوزاعى رحمهم الله كتابا ، أملنا جمعه قديما فى أخبار أئمة الأمصار إن شاء الله تعالى »

وعن عباس بن محمد الدورى قال : سمعت يحيى بن معين يقول : « أصحابنا يفرطون فى أبى حنيفة وأصحابه » فقيل له : أكان أبو حنيفة يكذب ؟ فقال : « كان أنبل من ذلك » .

وعن سلمة بن شبيب يقول : سمعت أحمد بن حنبل يقول : « رأى الأوزاعى ، ورأى مالك ، ورأى سفيان كله رأى ، وهو عندى سواء وإنما الحجة فى الآثار »

وعن الدراوردى قال : « إذا قال مالك : وعليه أدركت أهل بلدنا والمجتمع عليه عندنا فإنما يريد ربيعة بن أبى عبد الرحمن ، وابن هرمز » وذكر محمد بن الحسين الأزدى الحافظ الموصلى فى الأخبار التى فى آخر كتابه فى الضعفاء قال : يحيى بن معين ، « ما رأيت أحدا أقدمه على وكيع » وكان يفتى برأى أبى حنيفة وكان يحفظ حديثه كله ، وكان قد سمع من أبى حنيفة حديثا كثيرا قال الأزدى : هذا من يحيى بن معين تحامل وليس وكيع كيحيى بن سعيد وعبد الرحمن بن مهدى وقد رأى يحيى بن معين هؤلاء وصحبهم ، قال : وقيل ليحيى بن معين يا أبا زكريا ، أبو حنيفة كان يصدق فى الحديث ؟ قال : نعم صدوق ، قيل له : والشافعى كان يكذب ؟ قال : ما أحب حديثه ولا ذكره ، قال أبوعمر : لم يتابع يحيى بن معين أحد فى قوله فى الشافعى وقال الحسن بن على الحلوانى : قال لى شبابة بن سوار : كان شعبة حسن الرأى فى أبى حنيفة وكان يستنشدنى أبيات مساور الوراق : إذا ما الناس يوما قايسونا بآبدة من الفتيا لطيفه وذكر الأبيات ، وقال على بن المدينى : أبو حنيفة روى

عنه الثوری ، وابن المبارك ، وحماد بن زيد ، وهشيم ، ووكيع بن الجراح ، وعباد بن العوام ، وجعفر بن عون ، وهو ثقة لا بأس به ، وقال يحيى بن سعيد : ربما استحسنا الشيء من قول أبي حنيفة فنأخذ به . قال يحيى : وقد سمعت من أبي يوسف الجامع الصغير ، ذكره الأزدی

« قال أبو عمر رحمه الله : » الذين رووا عن أبي حنيفة ووثقوه وأثنوا عليه أكثر من الذين تكلموا فيه ، والذين تكلموا فيه من أهل الحديث ، أكثر ما عابوا عليه الإغراق فی الرأی والقياس والإرجاء وكان يقال : يستدل على نباهة الرجل من الماضين بتباين الناس فيه قالوا : ألا ترى إلى علی بن أبی طالب أنه قد هلك فيه فتيان محب مفرط ومبغض مفرط وقد جاء فی الحديث أنه يهلك فيه رجلان محب مفرط ومبغض ، وهذه صفة أهل النباهة ومن بلغ فی الدين والفضل الغاية . والله أعلم

**امام ابو عمر ابن عبدالبر فرمايي چی دحديثو ځينو اصحابو دامام ابوحنيفه (رح) په مذمت کی له حدنه زيات تيری کړيدی اود هغوی په نزد ددی سبب دادی چی امام ابو حنيفه (رح) په احاديثو او اثارو کی رأی اوقياس ته دخل ورکړيدی اوزياتره اصحاب حديث وايی چی کله کوم صحيح حديث صحيح ثابت سی نو قياس باطليږی. حال داچی امام صاحب ابوحنيفه چی کوم احاد اخبارترك کړيدی هغه يې دداسی تاويل په وجه کړيدی چی په هغو احاد خبر کی ګنجائش موجود و پدی کار کی امام صاحب متفرد هم ندی بلکی لدينه مخکی امامانو هم همداسی کړيدی او لدينه پس هم حقانی علماو همداکار کړيدی. غرض داچی څه چی په حديثو کی دقياس دخل اونور کارونه کړيدی هغه ټول دخپل ښار دحديثو او فقه دامامانو په اتباع يې کړيدی. مثلاً حضرت ابراهيم نخعی او دحضرت عبدالله بن مسعود ﷺ شاګردانو، البته د امام صاحب په مسائلو کی دا زيات دی. هغه (رح) او دهغه شاګردانو دډيرو مسائلو صورتونه (دفقهی جزئيات) فرض کړی او دهغوی ځوابونه (چيرته چی له قران او حديث نه صريح حکم ندی ترلاسه سوی) هلته يې**

خپل قیاس لیکلی دی. څرنګه چی سلفو په فرضی جزئیاتو کی کلام نه وکړی لهذا دامام صاحب مخالفینو دغه فعل ته بدعت وویل اودمخالفت لوی میدان یی ګرم کړ. په هر حال امام صاحب چی له قیاس اورأی څخه په ځینو فقهی جزئیاتو کی کار کړیدی په دې کی هغه رحمه الله متفرد (یوازی) نه دی بلکی هیڅ یو دعلم خاوند داسی نه وینم چی له ایاتونو څخه یی کوم یو آیت اوله حدیثو څخه یی کوم یو حدیث خپل مذهب اومختار ګڼلی وی او په بل آیت او حدیث کی یی تاویل نه وی کړی اویا دنسخ دعوه یی نه وی کړی. البته دا ډول شیان دامام صاحب په مذهب کی زیات اود نورو په مذهبونو کی کم دی. حضرت لیث بن سعد فرمایی چی ما دامام مالك صاحب اویا (۷۰) داسی مسائل شمار کړیدی چی له حدیثونه بالکل مخالف دی امام مالك صاحب له خپل قیاس نه دا کار کړیدی اوما دخیر خواهی او نصیحت په خاطر هغه مسائل امام مالك ته ورکړی وی. امام ابوعمرو ابن عبدالبر (رح) فرمایی چی دامت له علماو څخه هیڅوك داحق نلری چی دنبی کریم ﷺ څخه دیو حدیث صادریدل ثابت ومنی او بیا دی هغه مسترد کړی ترڅو پوری چی په داسی کوم حدیث یا اجماع او تعامل سره دهغه دمنسوخیدلو دعوه ونکړی اویا دهغه په سند کی جرح ونکړی که چیرته څوك داسی وکړی اوله مذکوره وجه نه پرته حدیث مسترد کړی نو دهغه عدالت ساقطیږی او دفسق ګناه ته رسیږی داسی سړی دامت امام څنګه جوړیدای سی مګر الله تعالی ددین ټول امامان لدی آفت نه محفوظ ساتلی دی.

همدغه راز دامام ابوحنیفه مخالفینو امام صاحب مرجیه ؤ ته هم منسوب کړیدی نه یوازی یې پرامام ابوحنیفه رحمه الله بلکی ددین پر ډیرو امامانو یې هم دا الزام لګولی دی مګر ددغه الزام په وجه څومره زبان درازی چی دامام ابوحنیفه لپاره سوی ده دنورو لپاره نه ده سوی، اوددی سبب دادی چی هغه دامت مشهور امام دی او نور دومره مشهور نه دی. ډیر خلك له امام صاحب سره حسد هم لری او ډیر داسی ځیزونه دهغه په طرف منسوبوی چی په هغه (رح) کی نسته اوپر هغه هسی بی ځایه تهمتونه لګوی دحق علماؤ دامام صاحب صفت اومدح کړیده اوپه نورو باندی یی فضیلت ورکړیدی. که الله تعالی فرصت راکړ نو انشاء الله تعالی د امام ابوحنیفه صاحب، امام مالك، امام شافعی، امام ثوری، اوزاعی او نورو ائمه ؤ رحمهم الله علیهم فضائل په یو مستقل کتاب کی راجمع کوم.

اوعباس بن محمد دوری فرمایی چی ماله حضرت یحیی بن معین څخه اوریدلی دی چی هغه فرمایل: زموږ اصحاب پر امام ابوحنیفه (رح) اودهغه پر شاګردانو زیات تیری کوی. چاله هغه نه تپوس وکړ چی ایا امام ابوحنیفه په روایت کی رښتونی نه و؟ یحیی بن معین وفرمایل هغه لدینه اوچت او پورته دی.

اوله مسلمه بن شبیب څخه روایت دی هغه فرمایی چی ما دامام احمد بن حنبل څخه اوریدلی دی چی دامام اوزاعي، امام مالك او دامام ابوحنیفه قیاس ټول یو ډول قیاسونه دی اوزما په نزد ټول یو برابر دی او حجت په آثارو کی دی.

امام دراوردی وایی چی کله امام ابوحنیفه دکومی مسئله په اړه وایی چی ماخپل ښار لدی سره موافق لیدلی دی نو دهغه مراد ربیعه ابن ابی عبدالرحمن او ابن هرمز او نور وی.

محمد بن حسین ازدوی موصلی چی دحدیثو دحفاظو څخه دی دخپل کتاب (الضعفاء) په آخره کی فرمایی چی یحیی بن معین فرمایلی دی چی ما داسی کوم عالم ندی لیدلی چی له امام وکیع نه یې مقدم او افضل وګڼم مګر ددی باوجود هغه به دامام ابوحنیفه په قول فتوی ورکوله او دهغه ټول حدیثونه یی په یاد وو اوله امام ابوحنیفه څخه یی ډیر حدیثونه اوریدلی وو.

حافظ ازدی وایی چی دوکیع په باره کی چی یحیی بن معین څه ویلی دی دا دهغه تسامح ده که نه نو یحیی بن سعید او عبدالرحمان بن مهدی له وکیع نه افضل وو اویحیی بن معین ددغو ټولو حضراتو په خدمت کی پاتی سویدی. له یحیی بن معین نه تپوس وشو چی ایا امام ابو حنیفه دحدیثو په اړه صحیح او رښتیا بیان کوی؟ هغه وویل هو هغه صدوق دی بیا له هغه نه تپوس وشو ایا امام شافعی صاحب دحدیثو په روایت کی رشتونی و که نه؟ هغه وویل دهغه حدیث زما ندی خوښ او نه د هغه په اړه څه ویل خوښوم. ابو عمرو بن عبدالبر (رح) فرمایی چی دامام شافعی حدیثو ته په ساقط ویلو کی چا له یحیی به معین سره موافقت نه دی کړی.

حسن بن علی حلوانی فرمایی چی ماته حضرت ثبابه ابن سوار وویل چی دحدیثو امام شعبه (رح) دامام ابوحنیفه په اړه ښه رأی درلوده او ماته به یی د مساور وراق اشجار چی دامام ابوحنیفه په مدح کی دی اورول.

دحدیثو امام علی بن مدینی فرمایی چی له امام ابو حنیفه څخه ثفیان ثوري ، عبد

الله بن مبارك، حماد بن زيد، هيثم، وكيع بن الجراح، عباد بن عوام او جعفر بن عون پشان د حديثو امامانو احاديث حاصل کړيدی. هغه بلاشبه ثقه دی په هغه کی هيڅ کمی نسته.

د حديثو امام يحيی بن سعيد فرمايي چی ډير وخت دامام ابو حنيفه اقوال زموږ خوښيږی او هغه خپلوو، هغه وايی چی ما دامام ابوحنيفه شاگرد امام ابويوسف څخه جامع صغير لوستلی دی، داټول روايات حافظ ازدی بيان کړيدی.

امام ابن عبد البر فرمايي چی کومو خلکو له امام ابوحنيفه څخه روايت کړيدی او دهغه ﷬ توثيق يی کړيدی او دهغه ﷬ مدح يی کړيده هغوی له هغو خلکو نه زيات دی چی هغوی دامام ابوحنيفه په خلاف خبری کړيدی (هغه هم ديو واقعی عيب په وجه نه) بلکی يوازی ددی لپاره چی هغه په داسی مسائلو کی چی په هغو کی نص په قرآن او حديث کی ندی راغلی له قياس نه يی کار اخستی دی. اودهغه په طرف دارجاء نسبت سويدی.

اودا خبره هميشه کيږی چی له متقدمينو څخه ديو شخص په باره کی د خلکو مختلفی رای لرل دهغه شخص پر جلالت قدر او عظمت باندی دلالت کوی، ويل کيږی چی دحضرت علی کرم الله وجهه واقعه پخپله پدی خبره دليل دی چی د هغه رضی الله عنه په اړه دوه قسمه خلك په تباهی کی وغورځيدل يوله هغه رضی الله عنه سره محبت کوونکی خلگ چی په محبت کی دافراط په وجه له شرعی حدودو نه تيری وکړ. بل هغه خلگ چی بغض يی ورسره درلودی اوله شرعی حدودو څخه يی تيری وکړ. همدغه مضمون په حديث کی هم راغلی دی چی له حضرت علی کرم الله وجهه سره په محبت کی له حدنه تيری کوونکی به هلاکيږي اوکومو خلگو ته چی الله تعالی په دين کی عظمت جلالت اوبزرگی په نصيب کوی هغه همدغه شان وی.

(جامع العلم لابن عبد البر ﷬ مع الاختصارص ۱۹۲) ([1])

* * *

([1]). دکتاب په ابتداء کی چی کومه مقدمه دکتاب ناشر ليکلی ده له هغه نه معلوميږی چی امام ابن عبدالبر (رح) دا کتاب تصنيف کړيدی اوپه اتو جلدونو کی دی. خو ډير افسوس چی داکتاب اوس دومره مفقود او ناياب دی چی په يوه کتابخانه کی هم نه ليدل کيږی.

# دشخصی تـقلیـد په اړه

**دقطبِ عالَم او فقیه العصر حضرت مولانا رشید احمد ګنګوهی (رحمه الله)**
**له تحقیـق نه ډک خط**

لاندینی مکتوب قطبِ عـالم حضرت ګنګوهی قدس سره لـه کاغذاتو څخـه لـه ډیر وخت نـه ترلاسـه سوی و اولـه صاحب زاده حکیم مسعود صاحب مرحوم څخـه مـی حاصل کړی و ځکه چی هغه پر ډیرو علمی جواهراتو باندی مشتمل دی دا مکتوب دهغی زمانی دیو لوی عالم دشبهاتو په ځواب کی لیکل سوی و افسوس چی اصل خط چی دهغه پـه ځواب کـی دغـه خط لیکـل سویدی پـه لاس رانغـی لـه هغـه نـه بـه دځواب مضمون په بشپړ ډول واضح سوی وای. لیکن دعلم دخاوندانو لپاره اوس هم څـه مـشکل نـسته دعلـم دخاونـدانو دګټـی پـه خـاطر داخـط شـائع کیـږی. (والله الموفق والمعین).

* * *

(از بندۀ رشید احمد (قدس سره))
مولوی صاحب سلمه، بعد سلام مسنون مطالعه فرمایند.
ستا دخط په لوستلو سره بی ساخته دا شعر را په یاد سو.

مرا خواندی وخود به دام آمدی                    نظر پخته تر کن که خام آمدی

تاسی ډیره ښه مباحثه کړیده چی پخپله دهوکه سواست. زه نن سبا ډیر مصروف یم لیکل راته ګران سویدی، کاشکی! تـه پخپلـه راغلی وای اوښـه تقریر بـه مـی درتـه کړی وای.

**قولکم**: شخصی تقلید واجب ګرځول سیئه بدعت دی.

**اقول**: ستا په نزد شخصی تقلید مباح دی لکه چی تا لوړ پخپله اقرار کړیدی مګر ته دمباح په معنی نـه یـی پـوه شوی چی څه ده. وایـی وره: تـا خو منقول او معقـول دواړه ومینځل. نفس تقلید یعنی مطلق تقلید خوفرض دی ځکه چی دالله تعالی قول دی:

فاسئلوا اهل الذکر ، او حدیث: انما شفاء العی السوال.
پخپله داخبره بدیهی هم ده چی دین له زده کولو نه پرته نه زده کیږی پدی کی دعقل او حس هیڅ دخل نسته پس مطلق تقلید خوفرض دی یقین لرم چی تاسی به یې هم منئ که نه نو ددی اثبات به هم درته وکړم. او ددی به دوه فردونه وی یو ئقلید شخصی اوبل تقلید غیرشخصی ځکه چی دواړه برخی دیو جنس دی برابره خبره ده که دې ته جنس او دوه نوع ووایی یامطلق او دوه فرد مقید ووایی. یا ورته یوکلی اودوه جزئی ووایی څرنګه چی ستا خوښه وی مقرر یی کړه. په هر حال دواړه ډوله تقلید ترمطلق تقلید لاندی راځی چی فرض دی. اوس زه له تانه پوښتنه کوم چی دفرض نوع یا فرد څنګه مباح سو ؟ دخدای بنده فرض او مباح دوه نوع مباین دی ترعنوان لاندی دجنس په حکم کی دی نو یو ډول مبائن دبل نوع فرد څرنګه سو؟ لږ څه خو غور وکړه چی تقلید مطلق خو دی فرض وی او شخصی تقلید دی مباح سی حال داچی دا دفرض تقلید فرد دی. نو ستا خدشه او اندیښنه پر همدغه خطا فهم باندی مبنی ده پس هوش وکړه چی دواړه قسم تقلید فرض دی پدی کی هیڅ یو مباح ندی. مګر چونکه د تقلید په امر کی دامتثال اختیار دی چی هریو کس وغواړی غوره یی کړی دبل ضرورت نسته او که دا دواړه کاره نه کوی نو ګنهګاریږی. او دغه تخیر ته یې مجازاً مباح ویلی دی نه داچی پخپله شخصی بذاته مباح دی.
ددی داسی مثال دی لکه په کفاره کی دقسم مثلاً نفس کفاره فرض ده او اطعام، کسوه او رقبه کی اختیار دی هریو یی چی ادا کړی له مطلق کفاری څخه خلاص سو. اوکه یو کار یی هم ونکړ نو ګنهګار سو. همدغسی مطلق اضحیه واجب ده او پدی کی بزه، اوښ، او بیا پدی کی په نر او ماده وغیره جزئیاتو کی خیار دی په هریوه باندی چی عمل یی وکړ فرض یی ادا سو یو هم پکښی مباح ندی، ټول فرض دی مګر په یوه باندی په عمل کولو سره له ټولو څخه بری کیږی. همدغه حال دټولو کلیاتو دی چی مطلق شرعی فرض وی او دیته مباح ویل دیو فرد داختیار داباحت په اعتبار سره دی نه مباح دفرض په مقابل کی چی په فرض کی دشبهی له کبله تا مباح هم ختم اوبی موقع کړ.
که همدا شبه وی نو شخصی تقلیدکوونکی به همدغه ستا له تقریر نه غیرِ شخصی

تقلید ته بدعت سیئه ووایی. ځکه چی غیرِ شخصی ځرنګه فرض کیږی هغه خو هم په همدی معنی سره مباح دی چی ذکر یی وسو.
شاه ولی الله صاحب چیری داویلی دی چی دغیر شخصی په وجوب باندی اجماع منعقده سویده چی دده مقابل نوع حرام وی ځکه چی دوجوب مقابله له حرمت سره وی. که چیری بالفرض دایی ویلی وی نو شخصی ځرنګه مباح سو بلکی حرام سو او غیر مقلدینو ته همدغه کوتاه فهمی سویده.
بلکی شاه صاحب دافرمایلی دی چی په قرون ثلاثه کی په اجماع جائز پاته سویدی پس له جواز نه دبلی نوع مقابل کراهت ځرنګه ثابت سو. خاص امکان خو به دی لوستلی وی اوپه شرع کی دیو کلی فرد په جواز سره دبل فرد کراهت چیری ثابت دی؟ داوزګړی (پسه) داضحیه دجواز څخه چی په اصجابو کی شائع و سبع بقر څنګه حرام سو. بلکی دکلی په حکم سره ټول افراد جائز دی او دفرد واحد په تعامل سره نور افراد نه مرتفع کیږی. مساوی الاقدام پاتی کیږی.
نو که چیری ستاپه ذهن کی دغی قاعدی ځای نیولی وی نو غور وکړه چی څنګه ستاپه نزد شخصی مباح دی همدغسی غیر شخصی هم مباح دی اوځرنګه چی غیر معین چی غیر شخصی دهغه مرادف دی ستاپه نزد واجب دی همدغسی معین چی شخصی دهغه مرادف دی هم واجب دی او حقه خبره داده چی دواړه واجب دی او واجب په دواړو کی دتخیر داحدهما په معنی ارتکاب دی اوبس. پخپل ذات کی دواړه فرض دی. نوستا شبه خو غوا وخوړه.
اوس ددوهمی جملی بیانول هم داعتراض په توګه ضروری ده:
**قولکم:** آمین بالجهر او رفع یدین الخ
که چیری دعلماؤ دمسلك په موافق داکارونه دعمل بالحدیث په وجه کوی نوله هغه سره جنګ او جګړه کول حرام دی اوکه چیری د تلهی او نفسانی هوا له کبله او دفتنی دپیداکولو لپاره یې کوی نوله هغه سره جنګ کول عین دین دی ځکه چی د فساد رفع کول واجب دی. که چیری پدی کی څه نوره شبه پیدا سوه نو وضاحت به یی وکړی سی اوس یی ضرورت نه احساسیږی.
**قولکم:** بیا تفرد دعوامو له ویری نه شخصی تقلید ته الخ.
عزیزه! بدعت سیئه به هلته سوی وای چی شخصی بذاته مباح وای هغه بذاته الله تعالی او فخرِ عالم محمد (ﷺ) فرض ګرځولی دی دغیر معین په مثال. که چیرته

دسهولت په وجه یا دمذاهبو دعدم تقرر له کبله شیوع د غیر معینو پاتی سو نو له قرون ثلاثه و څخه عمل کول منصوص فرض څنګه مباح وګرځیدل او څرنګه ددی التزام بدعت سو ؟ او ولی دقرون ثلاثه ؤ التزام له نص نه د تخییر په خلاف یو فرد ته بدعت نه سو ؟ که چیری د غیر معین التزام بدعت ندی نو دمعین التزام ولی بدعت سو ؟ که د معین التزام بدعت دی نو دغیر معین التزام څه وجه ده چی بدعت نه دی ؟ په نص کی دواړه برابر، په فرضیت کی دواړه مساوی په عمل کی دواړه یوشان عجب العجاب دی.

که چیرته په غیر معین باندی دعمل دوجوب اجماع سویده نوموږ ته هم اطلاع او خبر راکړی موږ تر ننه پوری نه اوریدلی اونه مو لیدلی او نه مو عقلی منلی دی چی الله تعالی دی دیو کلی حکم پر یوه فرد باندی دامت التزام پر بل فرد باندی حرام کړی او عوام چی دالله تعالی دیو کلی حکم دیو فرد التزام وکړی چی دقرون سابقه ملتزم هغوی نه وو بلکی دبل فرد ملتزم وو نو بیچاره عوام متبدع سول چی ولی یې د قرون سابقه د عمل په خلاف دخدای تعالی پرحکم عمل وکړ، لا حول ولا قوه الا بالله.

ورور‌ه! که څوك له تانه پوښتنه وکړی چی دقرون ثلاثه ؤ عمل دخدای تعالی دفرضی حکم ناسخ دی اودا شرك دی که نه نوڅه ځواب به ورکړی. په همدی حماقت سره معین مقلد ته غیر مقلدین مشرك وایی او پدی سره پخپله مشرك سو. اوداپته ورته ونه لګیده چی دشرك هغه طوق یې برعکس په خپله غاړه کی پری وتی لږ څه په فکر سره ګوره او خبری کوه.

**قولکم**: پس پدی صورت کی عواموته خبرتیا الخ.

**اقول**: بیشکه خبرتیا پکارده چی داسی فاسده عقیدی دی ونه ساتی بلکی دواړه فرض مساوی الاقدام وګڼی او په هر یوه باندی چی عمل کول غواړی عمل دی په وکړی. پدی شرط چی تلهی اوفساد یی مراد نه وی که ممکن وی. مګر واضح معلومیږی چی دابه له فساد نه خالی نه وی خواص خو داسی کولی سی مګر عوام هرګز له فساد نه خالی نه پاتی کیږی خپل خوند ته ، چی نن به ورته خپله ښځه حلاله وی اوسباته حرامه. یوه ورځ به ضب (سمساره) حلاله وی او بله ورځ به حرام او نجس وی. په دین به ښه خنداګانی وکړل سی چی زموږ دهر یوه یومذهب دی. اوس هم هندوان اونصاری اعتراض کوی چی دمسلمانانو دمذهب پته نه لګیږی.

بیابه پخپله مسلمانان به همداسی کوی. لږ څه پر جزئیاتو باندی هم نظر واچوئ چی نتیجه یی څرنګه را وزی. که بیاهم ستا په زړه کی څه شك پاته وی نو راته ویی لیکئ چی په څواب کی دری څلور صورتونه نور هم ولیکم انشاء الله تعالی.

**قولـکم**: لکه نور رسمونه دواده او غمونو الخ.

**اقول**: مثال غلط دی رسوم فی ذاته مباح وه نه فرضِ مخیَّر دېته نور څه مناسبت دی. دا ستا بناء فاسد علی الفاسد دی. مباح ته واجب ویل حرام اوله حرامونه منع کول واجب دی، پرواجبو دفساد ویره صحیح نده. اونکاح (واده) لومړنی وی یا دویمه اویا دریمه عند التوقان واجب اودزنا له ویری فرض او ددی پریښودل حرام دی، دقدرت په وخت کی خو دویمه نکاح هم واجب ده او دواجب پریښودل د خلکو له ویری نه درست کار ندی او ددوهمی نکاح تاکید دفساد (زنا) درفع لپاره دی چی بالکل مشهود او ښکاره ده پس ستا نظر بالکل بی محله دی، چی نفس عزوبت (بی واده کیدلو) ته دی کتلی دی، او دهغه لازمی ثمری ته دی ندی کتلی. که چیرته په نکاح کی هم بل کوم کار ددویم واده قائم مقام وای او دزنا لپاره دافع ګرځیدلی وای دهغه به هم همغه صورت وای، دلته له نکاح (واده) نه علاوه بله چاره نسته. لهذا دنکاح هر فرد واجب سو. په تقلید کی له غیر معین نه پرته دویم فرد پخپله دفرض عمل ته موجود دی چی فرض هم ادا سو او دفساد ددفع فرض هم ادا سو. هم سیخ سالم اوهم کباب سالم. دنکاح په مقابله کی بل څه وښیه چی څه دی لدینه علاوه چی دتناسل آله غوڅ کړل سی او دا کار حرام دی. فافهم

**قولکم**: البته په قرون اولی کی داسی مثال همداسی وی. الخ

**اقول**: ستا دا کلام خو بالکل عجیب دی. واوره په چپه لاس کی ګوتمۍ داصحابو په قرن کی مباح و، وروسته له روافضو سره دمشابهت له کبله داهم فتنه ده، (لقوله من تشبه بقوم فهم منهم) له کبله مکروه تحریمی سو. هدایه وګوره. پس دچپه لاس ګوتمۍ او درسته لاس ګوتمۍ دواړه جائز اوپه قرون ثلاثه کی درسته لاس ګوتمی مباح وه. بیا وروسته دچپه لاس دا مکروه سوه نو په چپه لاس کی دګوتمی نه په ګوته کول دعوامو دفتنی له کبله واجب سوه څکه چی د مکروه ترکول واجب دی. بحق فلان ویل په اول کی مباح و فقهاو ددی ترك دعوامو دفتنی او دمعتزله دمذهب دشیوع له کبله واجب وګرځوی څکه چی دمعتزله په نزد مطیع ته ثواب او

عاصی ته عذاب ورکول پر الله تعالی حق دی. که چیری په دغو دوو مثالوسره دی تسلی نه وی نو بیا وروسته به ورباندی ورغیږو. ته پخپله وایی چی رسوم مباح وه او اوس دفتنی له کبله حرام دی. دویمه نکاح مباح وه او اوس دزنا دویری له کبله واجب سوه له مانه دغه پوښتنه کوي؟ دټولی نړی عالمان خو درسول الله ﷺ فعل اوقول دا حجت منی چی اصل مقیاس علیه همغه دی او تاسی لیکئ چی هغه پخپله شارع و. ماشا الله که چیری دشارع پرفعل قیاس نه کیږی نو دقیاس اصل به له کوم ځای نه راځی. تا خو داسی خبره وکړه چی په دنیا کی بل څوك داخبره نسی کولی. قیاس په قرآن او حدیث باندی اول دی لدینه پس به کوم امر دلیل وی اوس نوته ووایه چی تا داڅه لیکلی دی. او داصحابو قول هم پخپله حجت وی لکه څنګه چی اصحاب داتباع لپاره مامور دی. متبع بالکسر درسول الله ﷺ او متبع بالفتح له من بعدُ نه همداسی په نورو قرونو کی دی. نه پوهیږم چی دافرق دی له کوم ځای نه نقل کړیدی. د اصحابو فعل حجت او مقیس علیه وی که داصحابو قیاس نه وی نو اصولو ته وګوره. محمد (ﷺ) دقریشو له ژبی نه علاوه قرانکریم یی مباح کړ. حضرت عثمان هغه حرام او دهغه ترکول واجب کړ. دعوامو دشورش له کبله دا عین حجت دی. نه داچی هغه مقیس جوړول درست ندی چی داقول محض غلط اوخطا دی.

اوس ددویم ډول مثال دا ستاسی هسی دفهم خلاف دی ځکه چی په قرون ثلاثه کی دعمل نه کیدو په وجه منصوص فرض بدعت نسی کیدی اوکوم چی بدعت دی هغه جائز نسی کیدی دا ستاسی دغلط فهم په وجه پیدا سویدی.

په فاسئلوا اهل الذکر کی مجتهدین هم داخل دی. که نه پوهیږئ نوله بل چانه پوښتنه وکړئ حکم عام دی نه مخصوص، په صحیحو او غیر منسوخه احادیثو باندی پوهیدل مشکل کار دی په همدی خاطر تقلید کیږی که چاته معلوم سی نو دتقلید حاجت نسته مګر څرنګه معلوم سی چی داهم پخپله یو تقلید دی. دوه صحیح متعارض احادیث چی دیوه هم نسخ نه وی معلومه خو له چانه دپوښتنه کولو څخه وروسته یو مرجح کوی که نه نو په تذبذب کی پاته کیږی.

او دحدیثو دامامانو نه ترلاسه کیدل یو لغو کار دی کله چی مصرح دهغه تحقیق موجود دی بیا دا احتمال محض هوای نفسانی دی. لکه چی د جهر، آمین او رفع یدین احادیث صحیح دی لیکن بل طرف ته هم احادیث دی. ترجیح د معارضی په

وخت کی کیږی دلته خوله سره معارضه نسته امام صاحب هم دهغو افعالو په وجود معترف دی مګر دا اخرنی فعل ثابت ندی. په تعارض کی دزمان وحدت شرط دی په دوه وخته کی دوه فعله کړیدی دناسخ حالل او دمنسوخ محقق نسته هریوه یوه ځانته ترجیح په اجتهاد سره ورکړیده هر یو چی غواړی قبول یی کړه که زما په خبره پوه سوی نوما خبر کړه که نه نو بیا راته ولیکه ځکه چی ستا اصلاح ضروری ده ته خو صرف په یو بحث کی راګیر سوی یی او هاخوا دی خوا خبری کوی. شرم ندی پکار. صفا صفا راته ولیکه ځکه چی دا ددین خبره ده دعالم سړی لغزش ټول عالم تباه کوی. غیر مقلدین دهمدغو دوو دریو قاعدو په خبط سره خراب سویدی که چیری په قاطعو براهینو پوهیدای نوله دغو خدشاتو او اندیښنو څخه به محفوظ پاتی وای مګر افسوس چی په سر سری نظر سره یې مطالعه کړیده.

بنده رشید احمد ګنګوهی ( رحمه الله )

❊ ❊ ❊

# داصحابو کرامو رضي الله عنهم له تعامل څخه دشخصي تقليد ثبوت

### دحضرت مولانا شبير احمد عثماني (رح) له افاداتو څخه

دمولانا شبير احمد عثماني صاحب مجالس عموماً له علمي افاداتو څخه ډك دي. په يو اتفاقي مجلس کي نوموړي ددوو عظيم الشان ګټو په طرف اشاره وکړه چي يوه يي حاضرينو ته وړاندي کوم.
پدي کي موصوف دشخصي تقليد په ثبوت کي دصحيح بخاري له روايت نه داصحابو کرامو دتعامل يوه واقعه بيان کړيده چي ما هغه په لږ زيادت سره ضبط کړيده هغه داده.
(بنده محمد شفيع عفا الله عنه)

* * *

هيڅ يو مسلمان پدي کي اختلاف نه لري چي په ټولو امورو کي اصل حکم دالله تعالى دی او يوازي د همغه جل جلاله اتباع په هر شخص باندي واجب ده، دانبياؤ اورسولانو احکام چي واجب التسليم دي هغه هم صرف پدي بنا چي هغوی دالله تعالى داحکامو مبلغ اودخالق اومخلوق ترمينځ واسطه دي، که هغوی له خپل اجتهاد نه هم يو حکم ورکړي نو پردې بناء باندي چي هغوی يې په ډيرو قرينو او دلائلو سره دحق تعالى حکم ګڼي لهذا پخپله الله تعالى دهغوی داحکامو اطاعت پر مخلوق باندي واجب ګرځولي دی که نه نو د (اِنِ الْحُکْمُ الاَّ لِلّٰهِ) نه علاوه دهيچا حکم دمنلو وړ ندی.
له همدينه داخبره هم ښکاره سوه چي څرنګه دانبياؤ اورسولانو داحکامو اطاعت کولو ته دالله تعالى سره شرك في الحکومت والربوبية نه سي ويل کيدی همدغسي د امت امامان چي دانبياءِ کرام عليهم السلام نائبين او دهغوی داحکامو له حقيقت نه په بشپړ ډول خبر دي دهغوی دښودل سويو احکامو تبليغ کوی هغوی چي له

خپل اجتهاد نه هرڅه وایي نو دهغوی هم له اصل کتاب او سنت سره مستند وی نوځرنګه چې د انبیاؤ اطاعت عین دالله تعالی اطاعت دی همدغسی دامامانو اطاعت هم بلاشبه دالله اودهغه درسول اطاعت دی دهمدغه اطاعت نوم دفقه په اصطلاح کی تقلید دی.
په آیت شریف (فاسئلو اهل الذکر ان کنتم لا تعلمون) کی قرانکریم دهمدغه اصولی مسئلی ښودنه کړیده چې کوم خلك پخپله دقرآن او حدیث غوامض نه پیژنی نو هغوی دی دعلم له خاوندانو نه الهی احکام یاد کړی او دهغوی تقلید دی وکړی.
خلاصه داچې دتقلید حقیقت صرف دومره دی چې نه پوهیدونکی خلك له پوهو خلګو نه پوښتنه وکړی او عمل وربانڈی وکړی. اودا یو داسی مسلم الثبوت ضابطه ده چې یو پوه انسان ددی څخه انکار نسی کولی. په همدی وجه منصف اهل حدیث هم دمطلق تقلید په جواز بلکی په وجوب کی اختلاف نه کوی اولدی کبله ددی دعقلی او نقلی دلائلو چې په عمومی کتابونو کی مذکور او معروف دی دهغو دلیکلو ضرورت نسته بلکی اختلاف او بحث صرف پدی کی دی چې دمعین اوټاکلی امام دتقلید پابندی وکړل سی چې دیو امام دتقلید په وخت کی دنورو امامانو په اقوالو عمل ونکړی چې هغه ته په اصطلاح کی شخصی تقلید ویل کیږی لیکن که چیری ددی په حقیقت باندی ځان پوه کړل سی نو داهم کوم مشکل بحث نه پاتی کیږی.

## دشخصی تقلید حقیقت

اصل خبره داده چې دقرآن او حدیث بی شمیره نصوص دخپل ذاتی هوا داتباع او خواهش پرستی دحرمت او ممانعت لپاره راغلی دی او له همدی کبله دڅلورو امامانو اودټول امت پدی خبره اتفاق دی چې دهوا اتباع په دنیوی امورو کی قطعاً حرامه ده کوم سړی چې خپل غرض اونفسانی خواهش مخ ته ایږدی اوبیا ددی دتکمیل لپاره دهغه پیروی کوی اوبیا په قران او حدیث کی دهغه لپاره دلائل لټوی. هغه دخپل ارادی اوخیال په لحاظ سره د هوا متبع دی نه دقران اګر چې په قران کی کوم مسند اتفاقاً ورته په لاس هم ورسی خو معامله یی له علیم او خبیر ذات سره ده چې د زړونو په رازونو خبر اودنیتونو څخه واقف دی.

حافظ ابن تیمیه رحمه الله په فتاوه کی پردی باندی په یوه مبسوطه مقاله کی دټول امت اتفاق نقل کړی او لیکلی دی: کوم شخص چی دخپلو خواهشاتو د پیروی کولو لپاره دمجتهدینو امامانو مذهب لټوی او پخپل خواهش باندی عمل کوی اوبیا دا دیو امام په طرف منسوبوی هغه دالله تعالی او دهغه درسول متبع ندی بلکی دخپل هوا او هوس متبع دی او داسی کول له دین نه دلوبی یوه ګوډیه جوړول دی.

دابن تیمیه ځینی الفاظ دادی:

فیکونون فی وقت یقلدون من یفسده، وفی وقت یقلدون من یصححه بحسب الغرض والهوی ومثل هذا لا یجوز باتفاق الأمة. ونظیر هذا أن یعتقد الرجل ثبوت شفعة الجوار إذا کان طالبًا لها، ویعتقد عدم الثبوت إذا کان مشتریًا؛ فإن هذا لا یجوز بالإجماع، وکذا من مبنی علی صحة ولایة الفاسق فی حال نکاحه، وبنی علی فساد ولایته فی حال طلاقه، فلم یجز ذلک بإجماع المسلمین.

ولو قال المستفتی المعین: أنا لم أکن أعرف ذلک، وأنا من الیوم ألتزم ذلک، لم یکن من ذلک؛ لأن ذلک یفتح باب التلاعب بالدین، وفتح للذریعة إلی أن یکون التحلیل والتحریم بحسب الأهواء.

فتاوی ابن تیمیه جلد ثانی ص ۲۴۰

داخلك په یو وخت کی د هغه امام تقلید کوی چی نکاح فاسده ګڼی اوپه بل وخت کی دهغه امام چی هغه ته صحیح وایی. اودا محض دخپل غرض او هوا په وجه دی اوداسی کول دامت په اتفاق ناجائز دی. بیا لدینه دری کرښی وروسته لیکی: او ددی نظیر دا دی چی یو سړی په یو وخت کی دیو حق دشفعه پخپله طالب او غوښتونکی وی نو دامام ابوحنیفه دمذهب په موافق دشفعه جوار دثبوت اعتقاد ښکاره کړی اوکه مشتری وی اوبل شخص دشفعه طالب وی نو د امام شافعی دمذهب په مطابق دهغه دعدم ثبوت معتقد جوړسی. همدغسی هغه شخص چی دنکاح دقیام په حالت کی دولایتِ فاسق دصحت قائل او ددی له کبله دنکاح له منافعو نه متنفع دی. مګر کله چی دری طلاق ورکړی نوله مغلظ حرمت څخه دبچ

کیدو لپاره ولایت فاسق کالعدم او دهغه ماتحت منعقده سوی نکاح فاسده وګرځوی اودا دمسلمانانو په اجماع جائز نه دی.
اوکه چیری یو مستفتی دا ووایی چی مخکی ماته ددی مذهب په باره کی پته نه و او اوس زه ددی پابند او معتقد یم بیاهم دهغه قول د منلو وړ ندی ځکه چی داله دین نه دلوبو جوړولو لپاره ددروازی خلاصول دی او ددی سبب ګرځی چی د حلال او حرام مدار پر محض هوا او خواهشاتو باندی وسی.
دامت دعلماو تصریحات اوڅرګندونی پدی باره کی ډیری زیاتی دی موږ په هغو کی صرف دحافظ ابن تیمیه پرکلام ځکه اکتفا وکړه چی اهل حدیث حضرات هم دهغه دجلالت او امامت قائل اوپه ډیرو معاملاتو کی د هغه متبع دی.
غرض داچی دخپل نفس او هوا اتباع د امت په اجماع حرام دی. اوبل طرف ته داخبره له تجربی نه محسوسه او مشاهده سویده چی که چیری عوام ازاد پریښودل سی چی په کومه مسئله کی وغواړی دامام ابوحنیفه دمذهب اتباع وکړی اوپه کومه مسئله کی چی وغواړی دامام شافعی په مذهب عمل وکی او کله چی وغواړی دمالکیه ؤ مذهب خپل کړی او کله یی چی خوښه سی دحنابله ؤ یا دنورو مجتهدینو امامانو. نو ددی انجام په لازمی توګه دارا وزی کم چی حافظ ابن تیمیه (رح) دټولو مسلمانانو په اجماع ورته حرام او ناجائز ویلی دی.
ددغه شرعی مصلحت له کبله عافیت اوسلامتی پدی کی لیدل سویده چی دواحد امام اتباع په ټولو مسائلو کی لازمی وګرځول سی. لنډه داچی پدی کی اصل مقصد دهوا او هوس له اتباع نه بچ کیدل دی او ددی تدبیر پدی هوا پرستی زمانه کی لدینه علاوه بل څه ندی چی عمل کوونکی ازاد پری نښودل سی بلکی دواحد امام پر تقلید مجبور کړه سی لهذا شخصی تقلید دمقصد له پاره دذریعې په خاطر واجب ګرځول سویدی.
ددی حقیقت له واضحه کیدو نه وروسته داهم معلوم سوه چی دځلورو امامانو تقلید یا دنورو معینو امامانو دتقلید دثبوت لپاره ضروری ندی چی په قرآن او حدیث کی د هغوی نوم اخستل سوی وی یا دهغو تعین ضروری ګرځول سوی وی ځکه چی قران او سنت دشرعی مقاصدو تشریح کوی دهغو دزرائعو تصریح کول ضروری نه دی. لکه دحج فرض کیدل په قرآن او حدیث کی منصوص دی مګر اورګاډی، جهاز یا موټر او اوښ چی ددوی په ذریعه دحج مقصود ته رسیږی

پرهغو دسپیدو دضرورت تصریح یا دجهاز دنوم تعین په قرآن او حدیث کی لټول دناواقفیت اوبی عملی دلیل دی لهذا که چیری په کتاب اوسنت کی هیڅ ځای هم دشخصی تقلید ثبوت تصریحاً نه وای نو یوازی داتباع دهوا نه ممانعت دشخصی تقلید دثبوت لپاره کافی ؤ. لیکن داصحابو کرامو له تعامل نه ثابتیږی چی په قرن اول کی هم ددی نظائر موجود دی. عامو اصحابو دهغو اصحابو تقلید کوی چی هغوی عالمان وه. بیاپه هغو کی هم ځینی مطلق له تعین نه پرته کله دیو عالم اوکله دیوبل بزرګ تقلید او په قول باندی عمل کوی. ځکه چی هغوی داتباع هوا له خطری نه محفوظ او مامون وه اوځینی اصحاب په هغه وخت کی هم په شخصی تقلید باندی عامل وه چی یو مثال یی دلته لیکل کیږی او همدغه ددی لیکنی اصل مقصد دی:

# دمدینی دخلکو تعامل

## دزید بن ثابت رضي الله عنه شخصی تقلید

په صحیح بخاری کی له حضرت عکرمه (رضی الله عنه) څخه روایت دی:

(( ان اهل المدینة سئالو ابن عباس رضي الله عنه امرأةٍ طافت ثم حاضت قا ل لهم تنفر قا ل لا نأخذ بقولک وندع قول زید )) .

(بخاری باب اذا حاضت المرأة بعد ما طافت، کتاب الحج)

دمدینی خلکو له حضرت ابن عباس رضی الله عنه څخه دهغی ښځی په بارهٔ کی پوښتنه وکړه چی له طوافِ فرض نه وروسته حائضه سوی وی چی هغه دطواف وداع لپاره ترپاکیدو پوری اَنتظار وکړی اوکه له هغی نه طواف ساقطیږی او هغی ته تلل جائز ګرځی ابن عباس رضی الله عنه وفرمایل هغه تللی سی. دمدینی خلکو وویل چی موږ ستا دقول له کبله دزید بن ثابت دقول په خلاف عمل نه کوو.

اوپه فتح الباری کی دثقفی په حواله پدی واقعه کی دمدینی دخلکو دغه الفاظ نقل کړیدی:

(( افتيتنا اولم تفتنا زيد بن ثابت يقول لا تنفر))

تاسی فتوه ورکړئ اوکه نه حضرت زید بن ثابت خو داوایی چی داښځه له طواف نه پرته نشی تللی.

همدغه راز په فتح الباری کی دمسند ابی داود طیالیسی په حواله دقتاده رضی الله عنه په روایت دهمدغی واقعی دا الفاظ نقل دی.
(( فقالت الانصار لا نتابعک یا ابن عباس وانت تخالف زیدا فقال سلوا صاحبتکم ام سلیم، فتح الباری ص ٤٦٣ جلد ٣))
انصارو وویل چی موږ دزید بن ثابت په خلاف وینا کی ستا اتباع نه کوو ابن عباس رضی الله عنه ورته وفرمایل: تاسی له ام سلیم نه پوښتنه وکړئ چی مسئله همدغه صحیح ده چی ما وویل.
پدی واقعه کی دمدینی دانصارو او دحضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه دگفتگو دالفاظو څخه دوه شیان په وضاحت سره معلوم سول.
لومړی داچی دمدینی انصارو دحضرت زید بن ثابت رضی الله عنه شخصی تقلید کوی. دهغه دقول په مقابل کی به یې دبل چا په فتوه عمل نه کوی.
دویم داچی حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه هم په هغو خلګو اعتراض ونکړ چی زموږ دزمانی په حدیث باندی دعمل کولو مدعیان یې پر مقلدینو باندی کوی چی شخصی تقلید خوشرك فی النبوة دی، حرام دی ناجائز دی. بلکی هغو ته یې دمسئلی دتحقیق او دحضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په طرف ددوباره مراجعی لپاره ارشاد وفرمایی لکه چی په فتح الباری کی دی چی دا حضرات مدینی منوری ته ورسیدل نو هغوی دحضرت عبد الله ابن عباس رضی الله عنه دارشاد په مطابق له حضرت ام سلیم نه دواقعی تحقیق وکړ او حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه ته یې رجوع وکړه چی نتیجه یی دا راووته چی حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه په مکرر ډول دحدیث په اړه تحقیق وکړ او دحضرت عباس رضی الله عنه قول یی قبول کړ اوله خپل سابق فتوه څخه یې رجوع وکړه کما صرح به فی الفتح ص ۴۲۴ ج ۲. غرض داچی لدی واقعی نه پدی خبره باندی دمدینی انصارو او حضرت عبدالله بن عباس ترمینځ اتفاق معلوم سو چی کوم خلك داجتهاد شان او کافی علم نلری او هغوی دیو معین امام تقلید پرخپل ځان لازم کړی نودا بلاشبه جائز دی.

* * *

# خبرتیا

لدی واقعه نه دلومړی قرن او داصحابو له تعامل څخه دشخصی تقلید ثبوت او جواز ثابت سو. بیا په آخری پیړیو کی ددی دلازم او واجب ګرځولو سبب داسو چی لدینه علاوه دهوا او هوس له اتباع نه محفوظ پاتی کیدل عادتاً محال سوه ددی دوجوب یو نظیر په لومړنیو پیړیو کی هم موجود دی چی انشاء الله تعالی په آینده رساله کی به ولیکل سی.

**حرره العبد محمد شفیع عفا الله عنه**

**فی کورة لبکری من مضافات دیوبند لسِتّ من شوال المکرم سنة ۱۳۵۷ هـ**

## دمضامینو فهرست


| صفحه | مضمون |
|---|---|
| ۲ | آیا د یو مجتهد امام تقلید دعامو مسلمانو لپاره فرض دی یا واجب یا مباح ؟ |
| ۱۱ | دشخصي تقلید دوجوب یو واضح مثال دراشده خلافت په زمانه کی |
| ۱۳ | دویم سوال: شخصي تقلید له کوم وخت نه او ولی شروع سو ؟ |
| ۱۵ | دریم سوال: یوازی دڅلورو امامانو تقلید ولی ضروری دی ؟ |
| ۱۸ | څلورم سوال: کوم سړی چی له څلورو امامانو څخه دچا مقلد نه وی ایا دهغه امامت جائز دی اوکه نه ؟ |
| ۱۹ | دتقلید پر مسئله دحضرت مولانا قاسم نانوتوی صاحبؒ محققانه تبصره |
| ۲۲ | دامام الائمه امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په اړه دحدیثو دامامانو اقوال |
| ۲۹ | دشخصي تقلید په اړه دحضرت مولانا رشید احمد ګنګوهیؒ خط |
| ۳۲ | داصحابو کرامو رضي الله عنهم له تعامل څخه دشخصي تقلید ثبوت |
| ۳۷ | دشخصي تقلید حقیقت |
| ۴۰ | دمدینی دخلکو تعامل دزید بن ثابت رضي الله عنه شخصي تقلید |
| | **تمت الفهرست** |


* * *